سال سوم شماره پنجاه ونهم
شماره مسلسل ۱۳۹
چهارشنبه ۶ حمل ۱۳۸۲ هش
۲۳ محرم الحرام ۱۴۲۴ هـ ق
26 March 2003

DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC
سال تاسیس ۱۳۷۹هـ ش

PROPERTY OF ACKU

۸۰۰ منزل رهایشی منهدم شده است

کابل:
گزارش واصله از مرکز معلومات ریاست روابط فرهنگی عامه خارجی و انکشاف ظرفیت های وزارت احیا و انکشاف دهات در اوایل صبح دیروز به دفتر روزنامه حاکی از آنست که از اثر سرازیر شدن سیلاب مدهش در قرای ترکمن آباد، با به یادگار و باغ زراعت شهر مزارشریف هشتصد منزل رهایشی کاملاً منهدم و به حدود دو صدوپنجاه منزل دیگر آسیب رسیده است. منبع تلفات انسانی را از این سیلاب یکنفر راپور داده می افزاید که جلسه استراری ای تحت ریاست اداره انکشاف دهات ولایت بلخ به اشتراک موسسات امداد رسانی داخلی و خارجی مستقر در شهر مزارشریف تدویر یافته که طی آن تیم های کاری بخاطر انجام سروی خسارات وارده، آسیب پذیری و توزیع مواد غذایی و غیر غذایی به اهالی مناطق سیلاب زده تعیین گردیده است. منبع می افزاید مواد بقدر کفایت بخاطر توزیع در شهر مزارشریف موجود است وفعلاً برای ارسال کمک ها از مرکز ضرورتی احساس نمی شود قرار است توزیع مواد از ساعت ۹ امروز آغاز شود.

جنگنده های امریکایی حین پرواز

طیارات امریکایی برای پرواز آماده می شوند

د بغداد په جنوب کی B52 ستر بمونه وغورځول

امریکایي توپ لرونکو هلیکوپترو او بریدکوونکو جنګي الوتکو د بغداد په جنوب کی د جمهوری ریاست ګارد په هدفونو سخته بمباری کړی ده عینی شاهدان وائي چی جنګی الوتکی چی تیټ پرواز یي کاوه او غرمبایي اوریدل کیده د شپی په تیاره کی ټول آسمان روښانه کړی و او دی بمباری له تیرو بمباریو څخه توپیر درلود داسی بریښنی چی د امریکا B.52 الوتکه ستر بمونه غورځولي په ښار کی د B.B.C خبریال وائي دا ددی نښه ده چی د بغداد دنیولو لپارد جګړی لومړی پړاو پیلیدونکی دی. B.B.C خبریال وایي: د عراق په تلویزیون باندی د داسی راپورونو په وړاندی کولو چی دوی جګړه ګټی د لیدونکو روحیه اوچته شوی ده. په کربلا کی هم د جمهوری ریاست قطعی د برید لاندی راغلی دا ښار د بغداد د جنوب څخه اتیا کیلو متره لیری دی.

امریکاییان از فرات گذشتند

بصره:
نیروی دریایی ایالات متحده امریکا ازدریافرات گذشته درشهر جنوبی ناصریه پیش رفتند خبرنگاران که با این عساکر یکجا هستند میگویند یک کاروان نیروی دریایی با تانگ های حامل افراد مسلح دوپل دریای فرات به کنترول خود درآورده اند این دوپل برای یک مسیر جدیدبسوی مرکز عراق بغداد ضرور ی بود این کاروان بافیرهای شدید وسنگین روبرو شدند که قوای امریکا ئی با استفاده از ماشیندار وهلیکوپتر های نوع کبرا به جواب متقابل پرداختند.

دلوی او بښونکی خدای په نامه

سرمقاله

صدام روی چه حساب میکند؟

سوالیست که ذهن تقریبا همه آنانی راکه به مسایل عراق می اندیشند و در جستجو راه حلی برای معضله عراق که فاجعه بشری اسفباری را در آغاز قرن ۲۱ سبب خواهد شد، هستند بخود مشغول و معطوف داشته است. زیرا در ظاهر امر و آنچه که از طریق باز رسان تسلیحاتی سازمان ملل به خورد مطبوعات داده شده و از آنطریق به آگاهی جهانیان رسیده هیچگونه امکانات منطقی رویایي صدام با امریکا را نشان نمی دهد.

برخورد آنی برای دریافت پاسخ با قضاوتی که از قبل با اتکا به معلوماتی که در مورد صدام و وضعیت عراق وجود داشته و دارد در یک جمله می تواند خلاصه شود که صدام دیوانه و یا مریض است. اما اگر از سطح به عمق مسایل بنگریم، صدام را دیوانه محض نمی توان یافت بلکه صدام باید چیزهای داشته باشد که روی آن حساب کرده به مقابله بر آمده است.

یکی از این داشته های صدام تکنالوژی پنهانی بوده است که اکنون امریکا و متحدین نظامی اش متوجه آن شده و احساس بیچاره گی می نمایند. صحبت تیلفونی آقای بوش رئیس جمهور ایالات متحده امریکابا همتای روسی اش آقای پوتین روی این تکنالوژی که گمان می رود تولید روسیه بوده و از طریق کمپنی های روسی در اختیار صدام قرار داده شده واز آن صلاحیتی برخوردار است که آماده گی ها نظامی و تسلیحات پیشرفته امریکا را نا کاره سازد بر این واقعیت صحه می گذارد. وشاید هم حقیقت یا واقعیت دومی احساس و برخورد ملت عراق با مسایل داخلی و خارجی آنکشور باشد که درگذشته توسط مخالفین رژیم وارونه جلوه داده شده وبخاطر مطرح بودن وکردن خویش بیزاری ها از صدام را عنوان نموده و شاخ و برگ داده اند. مقاومت بینظیر عراقیان طی هفت روز جنگ آنهم جنگی در آن سطح که نخبه ترین نظامیان با پیشرفته ترین ساز و برگ حربی، به وضاحت آشکار می سازد که حقایق در عراق و در رابطه با تائید وعدم تائید رژیم از سوی مردمی که در عراق زیست دارند آنچه نبوده و نیست که قبل از حمله بر عراق فکر می شد.

د امنیت شورا د بیړنی غونډی غوښتنه

عربی هیوادونو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا نه غوښتنه کړی چی په عراق کی د جګړی د څیړنی لپاره دی بوه بیړنی غونډه جوړه کړی په ملګرو ملتونو کی د سوریي سفیر میکائیل وهسی ویلی دي چی عربی هیوادونو د امنیت له شورا غوښتنه کړی چی د یوی پریکړی د تصویب په ترڅ کی په عراق کی د پوځی عملیاتو فوری ودرولو او له دغه هیواد څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو غږ وکړی. د دوشنبی په ورځ په قاهره کی دغونډی په ترڅ کی د عربی هیوادونو ټولنی له متحده ایالاتو او برتانیي غوښتنه وکړه چی خپل ځواکونه دی بی له کوم قید او شرط څخه له عراق نه بهر کړی.

محکوم نمودن امریکا کافی نیست

بغداد:
معاون ریاست جمهوری عراق از وزرای خارجه عرب انتقاد نموده گفت تقاضای آن هابرای خروج فوری وبی قید وشرط عساکر به رهبری امریکا ازعراق کافی نیست. رمضان گفت: محکوم کردن کافی نیست وی گفت کشورهای عرب باید تحریم تیل را به ایالات متحده امریکا وبرتانیا تحمیل کنند تبصره های رمضان درارتباط جلسه اخیر وزرای کشورهای عرب بشمول ناجی صبری عراق ارائه شده است دراوایل امروز چنین گفت درخواست اتحادیه عرب را برای جلسه اضطراری شورای امنیت مورد غور قرار دهد همچنین آمر بخش روابط بین المللی وزارت خارجه روسیه امروز گفت مسکواز درخواست اتحادیه عرب را برای جلسه اضطراری شورای امنیت پشتیبانی میکند وی گفت این جلسه شاید به زودی حتی امروز صورت بگیرد.

په خوست راکټی برید

ناپیژند شوو کسانو تن دافغانستان په جنوب کی د ائتلافی ځواکونو یوی اډی په لوریو توغندی توغولی دی د خوست د والی ویاند خیرالله تنی وال وایي د خوست هوائي ډګر ته نږدی ددغه برید له امله مرګ ژوبله نده شوی نوموړی وویل دغه توغندی د خوست جنوب ته د پاکستان پولي ته نږدی یوی سیمی څخه توغول شوی برید کوونکی نندی پیژندل شوی مخکی هم په خوست کی د ائتلافی ځواکونو په اډی د توغندیو د پرله پسی بریدونه شوی دی. د روانی میاشتی په پیل کی په خوست کی د ایتالوی ځواکونو د یوی اډی په لور توغندی توغول شوی و ائتلافی ځواکونه په سیمه کی د القاعدی شبکی او طالبانو پاتی کسانو پلټنه کوی.

مانع ورود مواد غذایی به عراق می شوند

بغداد:
عراق امریکا وبرتانیا را متهم ساخته است که مانع ورود مواد غذائی وسایل طبی به آنکشور می شوند.
محمد مهدی الصالح وزیر تجارت عراق طی یک کنفرانس مطبوعاتی دیروز گفت: عراق ازقبل برای خرید گندم ملیاردها دالر پرداخته است اما تحویل دهی مواد غذایی وطبی به عراق از اثر فشارهای واشنگتن ولندن معطل قرار داده شده است وزیر تجارت عراق واضح ساخت این خریداری به اساس پروگرام تیل درمقابل مواد خوراکی صورت گرفته بود که اکنون سازمان ملل متحد تحت تاثیر فشارهای امریکا وبرتانیا رسانیدن آنرا به عراق به تعویق انداخته است.

اراده درخدمت شما

اراده بخاطر کمک به هموطنان عزیز تصمیم اتخاذنموده است که اعلانات فوتی ومفقودی ایشانرا بطور رایگان به نشر بسپارد، هموطنان عزیز می توانند با مراجعه مستقیم به آدرس اداره ازخدمات اراده مستفید شوند.

پوتین اتهامات امریکا را رد کرد

مسکو:
عراق این مسئله را انکار کرده که یک کمپنی روسی برای عراق وسایل تسلیحاتی تهیه میکند وزیر اطلاعات عراق محمد سعید الحصاف گفت روسیه به ما هیچ چیزی نداده است یک سخنگوی جورج بوش رئیس جمهورایالات متحده امریکا قبلاً اظهار داشته بود که ایالات متحده امریکا شواهد معتبری دردست داردکه یک کمپنی روسیه به عراق سلاح ضد تانک وتکنالوژی شب بین برای زدن علامت های ستلایت که برای هدایت بم ها ازآن استفاده میشود فروخته است رئیس یکی ازاین کمپنی های مهم روسی درپاسخ به این ادعا گفته است که این کمپنی هرگزوسایل برهم زدن علامت های ستلایت رابه عراق نسپرده است ازسوی دیگر کرملین اعلام داشت که ولادیمیر پوتین رئیس جمهور روسیه این اتهام را درجریان یک مکالمه تلیفونی باجورج بوش رد کرده است. سخن گوی ریاست جمهوری روسیه ازقول پوتین گفت واشنگتن نتوانسته است برای طرفداری ازاتهام خودسندی تهیه کند ایگورایوانوف وزیرخارجه روسیه نیز از دادن هرنوع وسیله نظامی وغیر آن به عراق که مخالف محدودیت های بین المللی باشد انکار کرده است.

دری زره عراقی پوځيان اسيران شول

د متحده ايالاتو د پوځ دريمه ملی فرقه اوس د بغداد جنوب ته اتيا کيلو متره ليری د کربلا سيمی ته رسيدلی ده له بلې خوا وروسته له دی چی د امريکايي پوځ توپ خانی د عراق په جنوب کی دناصريه په ښار کی اهدافو باندی ګنی ډزی وکړی امريکايي سمندری ځواکونه دغی ښار ته ننوتی په عراق کی د امريکائي او ائتلافی قوتونو قوماندان تومی فرانکس وايي امريکايي ځواکونه به په ناصريه کی پاتی شی جنرال فرانکس وائي ائتلافی ځواکونو دری زره عراقی پوځيان اسيران نيولی دی دی وائي نږدی شل تنه امريکائي عسکر په جګړه کی وژل شوی اويا ورك شوی دی. دغه راز د برتانيي صدراعظم د هيواد پارلمان ته ويلی چی د عراق په جنوب کی د بصری جنوبی ښار محاصره دی او د ام القصر بندری ښار ګوتی د څو ځايونه پرته د ائتلافی ځواکونو په لاس کی دی .

د بصری خلك د ناروغی تر ګواښ لاندی دی

برتانوی پوځی قوماندانانو په خپل کړنلاره کی د بدلون اعلان کړی دی او ويلی يی دی اوس دعراق دوهم ښار بصره د يو پوځی هدف په توګه ګنی دوی وايي دوی داسی بيړنی پلانونه ندی سنجولی چی پوځيانو ته د ښار د نيولو امر وکړی خو دوی اشاره وکړه چی بريد کوونکی قطعی به لا اوس هم ښار ته وليږي چی د عراقی مليشی له غړو سره وجنګيږي د تيرو څو ورځو راهيسی عراقی مليشو د بصری په ښار خپلی منګولی ښخی کړی دی برتانوی او عراقی ځواکونه د ښکار په شاوخوا راګرځيدلی دی او يو پربل باندی ئي د توپونو ډزی ته دوام ورکړی دی برتانوی قوماندانان وايي چی دوی غواړی چی د بصری ښار تر خپل کنترول لاندی راولی او په دی سره به دوی وکولای شی چی ښار ته بشری مرستی ورسوی ملګری ملتونه وائي د بصری په ښار کی څه د پاسه نيم مليون خلك دڅښلو پاکو اوبو د قلت سره مخامخ شوی دی چی له کبله ئي په لسګونو زره خلك د ناروغی د خطر سره مخامخ دی .

د ناصريی په ښار کی چريکی جګړی

عراقی ځواکونه د امريکا په مشری بريدونو په وړاندی کلك مقاومت ته دوام ورکړی د بی‌بی‌سی يو خبريال چی د امريکا د سمندری ځواکونو سره مل دی د بغداد له جنوب څخه وائي چی هغه قطعه چی دی ورسره سفر کوی د تيرو ۲۴ ساعتونو راهيسی ځای په ځای دريدلی ده دا داسی بريښی چی د عراقيانو مقاومت مخ په ډيريدو دی په جنوب کی نور مخ ته د ناصريه د ښار د باندی د بی،بی ،سی خبريال واي چی ډير امريکايي شويلی سپك زغروال ګاډی لاری چی پوځی سامان آلات په کی بار دی ليدل شوی ، د B.B.C خبريال وائي د امريکا ډير پوځيان د عراق له سخت مقاومت سره مخامخ شوی دی . امريکائيان د فرات سيند په اوږدو کی دمهمو استراتيژيکو لارو کنترول په لاس کی لری خو د ناصريه د ښار په دننه او شا او خوا کی چريکی جګړی ته اړ ايستل شوی دی .

د عراق په جګړه کی 19 برتانوی عسکر وژل شوی

ټاکل شوی ده چی د برتانيي صدراعظم به په روانه اونۍ کی د واشنګټن ليدنه وکړی او د متحده ايالاتو له جمهور رئيس جورج بوش سره به په غونډه کی د عراق په هکله وغږيږي امريکايي چارواکو ويلی دی چی جورج بوش او تونی بلير به په راتلونکی پنجشنبی ورځ د جمهور رياست په استراحت ځای کم ديويد کی وګوری د برتانيي صدر اعظم د دوشنبی په ورځ د هيواد پارلمان ته وويل چی د برتانوی او امريکايي ځواکونو اساسي هدف دادی چی هرڅومره ژر به بغداد ته ځانونه ورسوی برتانيي ويلی دی چی په عراق کی د جګړی د پيل راهيسی ۱۹ برتانيوی سرتيری وژل شوی دی .

هيله او اميد لرل هدف ته د رسيدو لار لنډوي

غروال

انسانان په خپل ژوند کې ډيرې هيلې او اميدونه لري او غواړي چې دغه هيلې او اميدونه يې سرته ورسيږي، خو دغه هيلې او اميدونه هسې او خوشې په انتظار کيناستلو نه ترسره کيږي بلکې هلې ځلې او تحرك غواړي، منډې ترړې غواړي او يون غواړي، داسې هلې ځلې، داسې تحرك او داسې يون چې ددغو هيلو او اميدونو له پوره کيدو او ترسره کيدو سره مرسته وکړای شي، نو هغه وخت هيله من انسان ته دا ډاډ پيدا کيږي چې خپلو هيلو او اميدونو ته د رسيدو لپاره يې څه ناڅه لار وهلې او پر مخ تللی دی.

خو هيله او اميد له لاسه ورکول او لاس ترزنې کيناستل نه يوازې دا چې د انسان په ورځني ژوند کې ناکامی او ناهيلی منځ ته راوړي بلکې په انساني ژوند کې د رونق او بهبود د راتلو مخه نيسي، په دې اړو هسپانويان ډير ښه او غوره متل لري، دوی وايي: "هغه چې هيله له لاسه ورکوي ډير څه بايلي" رښتيا هم هيله له لاسه ورکول او هر څه ته د ناهيلې په سترګه کتل ددې سبب کيږي چې انسان ډير څه له لاسه ورکړي او پخپل ژوندانه کې ګام په ګام له ناکاميو او مايوسيو سره مخامخ شي.

موږ هم ددې اصل په رڼا کې پخپل وطن کې ډاډمن امنيت، دوامدارې سولې او د هېواد بياودانۍ ته هيله من يو او اميدلرو چې په وطن کې به مو ډاډمن امنيت او دوامداره سوله تامين او بيا به په ډاډه زړونو د خپل وطن کنډوالې بيا ودانې کړو خو زموږ دغه مقدسه هيله او اميد هغه وخت تحقق پيدا کولای شي چې موږ ټول داومنو او پردې باندې باور پيدا کړو چې زموږ له برخې اخستلو پرته دغه هدف نه شي تر لاسه کيدلای او دغه هيله او اميدونه مو په نيمه لاره کې له خنډونو او ځنډونو سره مخامخ کيدای شي ځکه خو نو زموږ مسئوليت په دې اړه تر ټولو زيات دی.

افغانان تر هر څه د مخه دا غوره بولي او د لومړيتوب حق ورکوي چې د ډاډمن امنيت او دوامدارې سولې په رڼا کې د خپل اجتماعي ژوند چارې سمبال او خپلې ورځنۍ ستونزې له منځه يوسي چې دغه هدف بيا زموږ د ټولو په يووالي او پيوستون کې پروت دی، کله چې موږ ټول پخپلو کې لاسونه سره ورکړو او ټول په شريکه د خوږې ورورۍ پر بنسټ پخپل مخکې پرتو ستونزو ته مټ ورکړو دا په يقين سره ويلای شو چې که ټول نه وي نو په سلوکې له نيمايي نه زيات مشکلات او خنډونه به له منځه يوسو او خپلو دغو هيلو او اميدونو ته به د رسيدو لاره رالنډه کړو.

که احياناً موږ هر يو د ځان د ګټې په فکر کې و اوسو او خپله شخصي ګټه ترملي ګټې غوره وبولو، نو په هغه صورت کې نه يوازې خپلې هيلې او اميدونه له پامه غورځوو بلکې دهغو دتحقق په لار کې پخپل لاس خنډونه او مشکلات پيدا کوو چې دا بيا ښې او ګټورې پايلې نه لري، خو موږ دا نه غواړو چې خپلو هيلو او اميدونو ته د رسيدو په لار کې پخپل لاس خنډونه او مشکلات پيدا کړو بلکې غواړو د يو بل په مرسته او د يو بل په مينه دغه غزنه لار ووهو او په نهايت کې هغه څه تر لاسه کړو چې موږ کلونه کلونه ورته انتظار درلود او دهغه دتحقق لپاره مو هلې ځلې کړې دي.

د افغانستان مسلمان او په وطن مين خلك خپلې شخصي هيلې" او اميدونه د هېواد له ملي هيلو او اميدونو سره تړلې بولي او زموږ هر افغان زيار باسي د ملي ارمانونو په تحقق کې خپلې ګټې او اميدونه ولټوي ځکه دوی په دې پوهيږي چې که ټول وطن يې غريب وي او اکثر هېوادوال يې محتاج وي نو يوازې دده سوکالي او آرام ژوند د ټولو ضرورتونو ته ځواب نه شي ويلای، نو چې له موږ سره دغه عالي او ملي فکر موجود وي بيا په ډاډه زړه ويلای شو چې خپلو هيلو او اميدونو ته د رسيدو لار مو لنډه کړې او ډير ژر به د هوسا او ډاډمن ژوند هر کلي وکړو.

افغانستان زیاتو مرستو ته اړتیا لري

کله چې په افغانستان کې نوی سياسی بهير را مينځ ته شو، نو نړيوالو سازمانونو او ګڼ شمېر هېوادونو ژمنه وکړه څو چې دغه جګړه ځپلی هېواد سره مرسته وکړي. افغانستان سره د مرستی لومړی کنفرانس د بېلابېلو هېوادونو په ګډون د جاپان هېواد د توکيو په ښار کې جوړ شو. چې هلته له افغانستان سره د ۳,۸ ميلياردو دالرو بلا عوضه او ۱,۴ ميلياردو ډالرو د پور په ډول مرستی ژمنه وشوه، دغه راز د توکيو له کنفرانس نه راورسته هم ديو شمير مرستو ژمنی وشوی چې د مرستو ټول شمېر ۵,۸ ميلياردو ډالرو ته ورسيد.

له افغانستان سره د نړيوالو مرسته د سمون داداری په يوه رپوټ کې راغلی چې تير کال د ۲,۸ ميلياردو ډالرو له جملی نه چې د مرستی ژمنه يې شوی وه ۱,۸ ميلیارده ډالره افغانستان ته د مرستي لپاره ورکړ شوی چې داد ژمنه شوی مرستی په سلو کې ۸۵ ښی. رپوټ زياتوی چې د نورو هېوادونو په پرتله چې افغانستان سره يې ورته شرايط يې لرل دغه مرسته لږه ده. د بېلګی په ډول دروانده له هېواد سره د هر وګړی په سر ۱۹۳ ډالره، له بوسنيا سره د هر وګړی په سر ۳۲۶ ډالره ختيز تيمور سره د هر وګړی په سر ۱۹۵ ډالره مرسته شوی خو له افغانستان سره په تير کال کې د هر وګړی په سر ۸۸ ډالره مرسته شوی چې دا د نورو هېوادونو په پرتله ډير کموالی په ګوته کوی. رپوټ دغه راز زياتوی چې تير کال د ژمنی شوی مرستی يوازی ۲۰ په سلو کې نيغ په نيغه د افغانستان دولت ته ورکړل شوی چې له دي ډلی نه ۱۸۴,۵ ميليونه ډالره د افغانستان بيا جوړلو صندوق ته ۱,۴ ميليونه ډالره د نظم او قانون په نامه صندوق ته او ۲۶,۴ ميليونه ډالره د حکومت بودجی ته ورکړل شوی چې وروستی رقم يې دهند، پاکستان، ډنمارك او عمان هېوادونو له لوری مرسته شوی وه. همدا رنګه د ايټالی، سويډن، جاپان، ناروی او انګلستان هېوادونو دهغو پورونو په ادا کولو کې ونډه واخسته چې آسيايی بانك او نړيوال بانك په افغانستان درلودل او شمير يې ۴۷ ميليونو ډالرو ته رسيده.

نوموړی رپوټ دغه راز د ۱۳۸۲ هجری لمريز کال لپاره د دولتی بودجی او نړيوالو مرستو په هکله وايي: په دی کال کې عادی بودجه ۵۵۰ ميليونه ډالره ټاکل شوی چې ۲۰۰ ميليونه ډالره به يې له کورنيو عوايدو او ۳۵۰ ميليونه ډالره به يې له بهرنيو مرستو نه تمويل شي. دغه راز د ۱۳۸۲ کال پراختيايي بودجه ۱,۷ ميلیارده ډالره ټاکل شوی.

چې دا بايد ټوله د بهرنی مرستی له لاری تامين شی چې د برو کسل له کنفرانس نه مخکی چې دروان کال د کب د مياشتی په ۲۶ - ۲۷ نيټه جوړ شو د ۶۲۲ ميليونو ډالرو مرستی ژمنه شوی وه رپوټ وايي چې کيدای شی ورکړل شوي ارقام بشپړ دقيق نه وي خو هڅه کيږی چې دقيق شي.

په هغه کنفرانس کې چې افغانستان له بودجی سره د مرستی د راجلبولو لپاره دروان کال د کب د مياشتی په ۲۲ - ۲۳ نېټه په کابل کې جوړ شوی و د افغانستان د اسلامی انتقالي دولت مشر حامد کرزی وويل: چې د افغانستان د پخوانيو ژمنه شويو مرستو څو برابر وته اړتيا لری او نړيوال بايد په دی بهير کې لا نوره ونډه هم واخلی ده زياته کړه چې ۱۳۵۷ کال نه مخکی چې کمونستی کودتاه په کښې وشوه افغانستان ډير ښه اقتصاد درلود، او په خپل ځان متکي و خو ددغي بد مرغی کودتاه او جګړو له امله زموږ اقتصاد ته ډير زيان رسيدلی، نړيوال تر هغو بايد له افغانستان سره مرسته وکړی څو چې افغانستان په خپلو پښو ودريږی.

ورزش ضامن تندرستی

دمخ چلوونکی: میرویس

ورزش سلامتی ده

موږ په تیر یوه کال کې خپلو تمریناتو ته په منظمه توګه دوام ورکړی او د ولایت په سطحه مو دری ځلی د هلمند ولایت د ټیمونو ترمنځ د فوټبال د لوبو ټورنمنټ جوړ کړیدی.

د هلمند ولایت د پیروزی د ټیم کپتان د ارادی د خبریال سره د یوی مرکی په ترڅ کې پورتنی څرګندونی وکړی او زیاته یې کړه:

د فوټبال لوبه لکه څرنګه چې په ټوله نړۍ کې زیاد مینه وال لری زموږ په وطن کې هم ددغې لوبې مینه وال کم نه دی، همدا اوس موږ د لشکرګاه په ښار کې تر پنځو زیات د فوټبال ټیمونه لرو، همدا راز په ولسوالیو کې هم د فوټبال ټیمونه لرو، چې د خاصو ورځو او مراسمو په مناسبت موږ هم سپورټی تورنمنټونه دهغې جملې څخه د فوټبال تورنمنټونه جوړوو او ټول ټیمونه ښه په علاقمندۍ سره په هغې کې برخه اخلي.

نوموړی زیاته کړه: د لشکرګاه ښاریان د فوټبال د لوبې سره ډیره مینه لري، د دوی تشویق دی، چې موږ دیته هڅوي، چې دغې لوبې ته وده ورکړو، د فوټبال نوی ټیمونه جوړ کړو او د مسابقو په ورکولو سره د خپلو مینه والو سپورټی تنده ماته کړو.

د پیروزی د ټیم کپتان په پای کې زیاته کړه: همداشان چې د انسان بدن خوړو او اوبو ته اړتیا لری همداسې ورزش ته هم ضرورت لری. موږ ټولوته پکار دی په تیره بیا ځوانانو ته چې ورزشی فعالیتونه وکړی، دا مهمه نه ده چې په کومه سپورټی رشته کې ځوانان ځان مصروفوی هری لوبې او هر راز ورزش سره چې هڅوی ورسره مینه لری په هغه رشته کې دی ورزش وکړی او په دی توګه دی خپل صحت، سلامت وساتی، ځکه نه یوازی دا چې سپورټ او ورزش د انسان بدن ته ګټه رسوی، بلکه ناسمو او ناوړه اعمالو ته د ځوانانو دمخه کولو څخه هم مخنیوی کوی. زه د ټولو ځوانانو څخه غواړم چې د پروګرام له مخی دی خپل څو ساعته وخت د ورځی سپورټ ته وقف کړی.

ورزشکاران اردو به تاجکستان رفتند

دو تیم منتخب شامل ۳۰ نفر پهلوانان و فوتبالران اردو جهت اشتراک در مسابقات دوستانه جشن نوروز عازم کشور تاجکستان گردیدند.

تیم های پهلوانی و فتبال اردو یک سلسله مسابقات دوستانه را با تیم های وزارت دفاع تاجکستان انجام خواهند داد.

خبرنگار ورزشی مامی افزاید:

سفر تیم های اردو که بنابه دعوت وزارت دفاع تاجکستان صورت گرفته بدون شک در تبادل تجارب سپورتی میان تیم های ما و کشور همسایه نقش ارزنده خواهد داشت.

په تاجکستان کې لاسته راوړنې

د هېواد د اردو د پهلوانی او فوتبال ټیمونه چې څه موده وړاندې د تاجکستان د دفاع وزارت په بلنه هغه هېواد ته تللی وو په سیالیو کې لومړی مقام وګاټه.

دغو دواړو ټیمونو د هغه هېواد د دفاع د وزارت د ټیمونو څخه برسیره د تاجکستان د ځینو نورو ټیمونو سره هم مسابقې ترسره کړې. چې ددې ټولو مسابقو پایلی زموږ د هېواد د اردو د ټیمونو په ګټه وی. او د دوی نوم د مسابقو د ګټونکو د جدول په لومړی سر کی ولیکل شو.

ددغو مسابقو نتیجی دا ښئ چې د اردو د ټیمونو په ترکیب کې غوره اوښو ورزشکارانو ته ځای ورکړ شوی او دا ټیمونه لکه د ځینو نورو ټیمونو په څیر د تصادفی اشخاصو او افرادو څخه جوړ ټیم نه دی. او که زموږ ټول ټیمونه په دغه میعارونو جوړ شی. هېڅ شك به نه وی چې په راتلونکی کې به زموږ ورزشی ټیمونه لاښې بریاوی او لاسته راوړنی ولری.

زموږدفوتبال تیم دقزاقستان تیم ته ماتي ورکړه

د نیپال په هېواد کې د آسیایي جام په لوبو کې د افغانستان د فوټبال ټیم د قزاقستان ټیم ته د یو د دوه په مقابل کې ماته ورکړه. د افغان ټیم لوبغاړي سیدظاهرشاه په شپږویشت دقیقو کې خپل لومړی ګول ترسره کړ. د قزاقستان ټیم ښه چانسونه درلودل خو بیا یې هم ونه شوکړای چې د افغان ټیم دروازه ماته کړي. په وروستیو لسو دقیقو کې د افغان ټیم لوبغاړي فریدعظیمي د خپل سیال دروازه یوځل بیا ماته کړه او په دې توګه د دوه د یو په مقابل کې د افغان ټیم په ګټه پای ته ورسیده.

د مالی ستونزو له کبله په هند کې تم کیدل

د هېواد د فوټبال ټیم چې په نیپال کې یې د سیالیو پایلی په زړه پوری وی، د سیالیو د پای ته رسیدو څخه وروسته د هندوستان هېواد ته راستانه شوی او هلته د بی سرنوشتی په حالت کې اوسیږی.

د لوبو په پای کې د فوټبال ټیم باید دنیپال څخه هېواد ته راستانه شوی وای، خو کومی ستونزی چې د عراق د جګړی له امله د الوتکو په پروازونو کې رامنځ ته شوی، زموږ د فوټبال ټیم هم مجبوره شو، چې هندوستان کې تم شی.

د هېواد د فوټبال د فدراسیون رئیس په یوه مرکه کې څرګنده کړه، چې موږ خپل ټیم ته په ډیرو ستونزو یوازی دومره مالی امکانات برابر کړی وو، چې دوی د پلان سره سم نیپال ته ولاړ او راشی، خو وروستی ستونزی چې د دوی د راتګ په وخت کې رامنځته شوی، ددی سبب شوی چې زموږ د فوټبال ټیم د مالی ستونزو له کبله په هندوستان کې پاتی شی، موږ هڅه کوو، چې دا ستونزه حل کړو، خو په دی برخه کې د هېواد او په تیره بیا د مالئي د وزارت او د آریانا د ریاست پاملرنه غواړو.

آسترالیا برای سومین بارقهرمان شد

تیم کرکت آسترالیا با شکست دادن تیم هندوستان در مسابقه فاینل جام جهانی کرکت برای سومین بار مقام قهرمانی جهانی کرکت را برای خودش محفوظ داشت مسابقات جهانی کرکت که در هر چار سال یکبار تدویر می یابد، از سلسله مسابقات پرهیاهوی و سرو صدا است که اکثراً بازیکنان معروف تیم های چون استرالیا هند، پاکستان، سری لینکا، انگلیند نیوزیلاند در آن متهم به رشوه ستانی و تعیین سر نوشت بازی از قبل می شوند که بطور عموم شرط بندی های بزرگ پولی در بردو باخت تیم های مورد نظر سبب می شود تا بازیکنان سر نوشت ساز خریداری شده و مطابق به فرمایش خریدار بازی کنند.

بهر صورت تیم استرالیا طی سه دوره یعنی ۱۲ سال متواتر توانسته است از مقام قهرمانی اش دفاع کند. این تیم در مسابقات جهانی سال ۱۹۹۵ با شکست دادن تیم ویست اندیز و در سال ۱۹۹۹ با مغلوب ساختن تیم کرکت پاکستان در فاینل مسابقات به مقام قهرمانی جهانی کرکت دست یافته بود و اینک با پیروزی بر تیم هندوستان از مقامش دفاع کرده است.

ACKU

یوازی خپل وظایف تر سره کړی

باکور

د جندی په میاشت کی د هیواد د لویو لارو د بیا رغونی په هکله د فواید عامی د وزیر ښاغلی ډاکتر عبدالله علی مرکه د ارادی په ورځپانه کی خپره شوی وه ښاغلی وزیر د ارادی د خبریال ددی پوښتنی په ځواب کی چی اوسنی کار چی د کابل ، جلال آباد لویه لار شویدی داورښتونو په وراندی مقاومت وشی کړای او ډیر ژر به بیرته پخوانی حالت ته ونه گرځی ، ویلی و : موږ ددغی سرك د ساتنی لپاره د حفظ و مراقبت یوه ډله توظیف کړیده چی هغوی به د ضرورت په وخت کی دغه سړك په عاجله توگه ترمیموی او دلاری د خرابیدو څخه به مخنیوی کوی .

اوس داسی ښکاری چی د خبریال تشویش په دغی لویه لاره کی مسافرو ته د ستونزو د رامنځ ته کیدو په هکله بی مورده نه وو ، او حتی دهغی څخه زیات ستونزی را منځ شوی ، چی په هغه وخت کی یي اټکل کیده . ورسیتو څو ورځنیو اورښتونو نه یوازی دا چی د سړك ډیری برخی ورانی او ویجاړی کړیدی ، بلکی په تیرو دری ، څلورو ورځو کی په متواتر ډول ، د دریو څخه تر شپږ حتی اوه ساعتونو پوری د ماهیپر په لاندنی برخه کی موږ ددغی لوئي لاری د بندیدو شاهدان یو ، په سل هاو واړه او غټ موټر د ماهیپر د پریښنا کوت څخه ښکته او په سل هاو نور د ماهیپر په پورتنیی برخه کی په انتظار کی ولاړ وي ، او حتمی ده چی دغه په سل هاو موټر په زرهاوو تنه مسافر هم لری چی په هغوی کی واړه او زاړه هم شامل دی ، ښکاره خبره ده چی د وړو او زړوز او دهغی ترخنگ د ښځینو او مریضانو لپاره پنځه یا شپږ ساعته انتظار هغه هم د موټر په سیټونو کی خورا ستونزمن کار دی .

د لویی لاری په دغه برخه کی د لاری دبندیدو لامل یوازی د سړك خرابیدل او د موټرو ښوئیدل نه بلکه ناسم ترافیکی نظم هم دی ، ځکه ټول ډریوران بي له دی چی نوبت مراعا کړی او نورو ته ستونزی را منځ ته نکړی او ددی په خاطر چی یو څو دقیقی د مخه سفر لنډ کړی نو بی لمبری کوی او د لاری د بندیدو سبب گرځی .

وړاندیز دای چی هغه د حفظ ومراقبت ډله چی د فواید عامی ښاغلی وزیر یي یادونه کړی وه او اوس هم په رشتیا هماغه ډله ددغی لویي لاري نورو برخو کی د سړك د جوړیدو په چارو بوخته ده ، هغوی دی د ماهیپر لاندنی برخی ته راوغوښتل شي او ددی سړك جوړیدولو کی دی بوختی شي اویا دی بله ډله هلته واستول شي ددی تر څنگ ضرورت دی چی دلویو لارو ترافیك اویا هم د کابل ترافیك دی د موټرونو د اډو د پاخه سړك د غرفو څخه چی ماشاالله پکی ځایېږي هم نه ، څو تنه د ترافیکی نظم د جوړولو په خاطر ماهیپر او دهغی کوزنی برخی ته ، چی بی له شکه ددغو ددو ریاستونو د مسولیت ساحه هم ده ، ولیږي او په دی توگه دفواید عامی وزارت او د ترافیکو ریاست دی زموږ دهیوادوالو دغه ستونزه په گډه سره حل او دهیواد والو او په دغه لاره د تلونکو اوراتلونکو مسافرو په وړاندی دی خپل وظایف او مسولیتونه تر سره کړي ، د خلکو غوښتنه لویه او ددغو ادارو د امکاناتو څخه بهر نه ده اونه هم بهرنیو مرستو پوری تړلی ده ، دوی یوازی اویوازی غواړی چی دغه دوه اداری دی خپل وظایف او مکلفیتونه تر سره کړي .

یک موسسه امریکایی یکصد هزار دالر را به معیوبین افغان مساعدت نمود

بنیاد ستار که یکی از بزرگترین موسسات شخصی امریکایی با بودیجه تقریباً ۴ ملیارد دالری میباشد مبلغ یکصد هزار دالر امریکایی را بخاطر مهیا ساختن اعضای مصنوعی برای تقریباً یکهزار معیوب افغان اهدا نموده است.

کمیته نجات بین المللی I.R.C منحیث میانجی مالی در اجرای این پروژه عمل نموده و برعلاوه با کمک های اساسی لوژیستیکی سعی نموده تا این ابتکار موفق گردد

تهیه کننده اعضای مصنوعی یک سازمان خیریه هندی بنام بگوان مهاویر ویکلانگ سهایاتا سمیتی B.M.V.S.S است که در جیپور مرکزیت دارد. یک تیم ۲۰ نفری مجرب هندی جهت انجام این پروژه بتاریخ ۱۷ مارچ به کابل مواصلت نمود. کمپ تهیه اعضای مصنوعی الی تاریخ ۱۳ اپریل در کلنیک سندیگال جوار شفاخانه وزیراکبرخان ادامه خواهد داشت.

بنیادی ستار مقیم شهر نیویارک در سال ۱۹۵۵ توسط کورنیلوس و ندرستار تاسیس گردید. وی یکی از موسسان سیستم بیمه که سیستم بیمه خدمات مالی بین المللی و موسس سیستم کمپنی های خدمات مالی در امریکا است. او در سال ۱۹۶۸ به عمر ۷۶ سالگی چشم از دنیا پوشیده تمام دارایی اش را به این بنیاد بمیراث گذاشت.

بنیادستار در تمام ساحات مانند. تعلیم، ادویه، حفظ الصحه، امور عامۀ ضروریات انسانی، فرهنگی و محیطی کمک بلا عوض مینماید.

کاربسیاری از موسسات شخصی امریکایی و خیریه مانند بنیاد ستار توسعه وتقویه کارهای حکومت ایالات متحده امریکا در افغانستان میباشد . کمک رسمی ایالات متحده به افغانستان به یک ملیون دالر نزدیک میشود . ایالات متحده امریکا در کنفرانس کمک دهنده گان در بروکسل بتاریخ ۱۷ مارچ وعده کمک اضافی ۸۲۰ میلیون دالری را به افغانستان علام نموده است. جمشید

رواج

عدالت شو مرور چی رشوتونه شول رواج
په نوی رنگ او بڼه خیانتونه شول رواج
معیار د هر مقام و پخوا پوه او صداقت
اوس دی اصل ته بل ډول معیارونه شول رواج
پښتون ، ترک او تاجك او هزاره ته
بیل بیل مقررات او قانونه شول رواج
د شخصی او ناروا گټو لپاره
د انسانانو په سرو تجارتونه شول رواج
له پوه ځنی ناپوه مقدم او محرم دی
چی جعلی تقلبی نن دیپلمونه شول رواج
حی ښکار بی واسطی بی وسیلی مراجعین کړی
د رئیس او مدیر منځ کی سازشونه شول رواج
احساس او عاطفی سترگی د ډیرو ړندی شوی
نن ځکه دا کاذب قضاوتونه شول رواج
په تش پلو چلو باندی .... نه خوشحالیږي
اوس اوس چی دعوتو کی .... شول رواج
سپیڅلی اسلامی روایتونه پایمالیږي
دقلم په ځای چی دلته ټوپکونه شول رواج

م . حسن زمری

نامه وارده

صبح بخیر افغانستان می خواهد...

از اضطرابی که در سراسر نبشتۀ منتقد گرسنه خاطر ما موج میزند، برای کارکنان صبح بخیر و ماشام پخیر افغانستان آشکار شد که ارزیابی آقای بی قلم برخاستۀ از معدۀ خالی شان بوده است نه از قریحۀ انتقادی شان. وقتی منتقد جیب آرزو هایش را از پول توکیو خالی میبینۀ، زمام نقد را به دیار حسادت میکشاند و خرمن تلاشها و ارزشها را با شاخی بیخبری باد میکند. تا به حال به مقامهای که صلاحیت رسمی و قانونی ارزیابی کارهای نشراتی ما را دارند وبرای تشکیل و رهبری این رادیو گامهای ارزشمندی برداشته اند، نه تنها درد سری نبوده ایم، بلکه ایشان معتقدند که برنامه های صبح بخیر و ماشام پخیر افغانستان در بلند بردن کیفیت و تنوع نشراتی رادیو افغانستان نقش بسیار فزاینده داشته است. از جانب دیگر هیچ شنونده یی تا اکنون از ما طلب آسپرین ضد سر دردی نکرده است. از هزینۀ مالی برنامۀ ها، بر خلاف تصور بی قلم بشتر برای ترمیم و فعال سازی استدیوهای سابقۀ رادیو افغانستان، خریداری تجهیزات و اجناس لازم و تربیه و پرورش کارمندان مسلکی استفاده شده است و یک بخش اندک ازین مساعدتها برای معاش و مصارف کارمندان در نظر گرفته میشود.

کارشناسان اروپایی به این امور آگاهی کامل دارند و میدانند که پولهای به جان برابر شان را در کجا و چطور مصرف کنند. منتقد ما تا با حال آگاهی درست ندارد که صبح بخیر و ماشام پخیر افغانستان بخشی از برنامه های رادیو افغانستان هستند. مقصد از ایجاد برنامه ها همین بود که با استفاده از کمکهای جهانی و برنامه های دراز مدت کشورهای ثروتمند در عرصه بازسازی فرهنگی بتوانیم نشرات رادیویی را بیشتر از پیش با کار برد ارزشهای نوین مطبوعاتی تقویه کنیم و زمینه پرورش کارمندان جوان و با استعداد را فراهم بسازیم.

در کشور ما بعد از سالها جنگ و سرشکنی، سرکوب اندیشه و سانسور مطبوعات حالا زمینه های فراهم شده اند که باید به یاری همدیگر در پاسداری آنها بکوشیم. برای دفاع از آزادی بیان، رشد و گسترش ژورنالیزم مدرن و تفکر نوین مطبوعاتی و مطبوعات کثرت گرا دست همدیگر را بگیریم و بساط همدیگر فهمی را گسترده ترسازیم. درین جا ما محتاج دستگیری، رهنمای و نقد اصلاحی هستیم نه بر خوردهای عقده آمیز وعیب جوییهای ویرانگر.

بی قلم در پایان مضمون انتقادی اش میگوید: "در اخیر آرزو دارم دست اندر کاران رادیوی صبح و ماشام پخیر، نظریات بنده را سو تعبیر نکرده در رفع مشکلات و کمبودات خویش اقدامات مقتضی دارند، تا باشد برنامه های شان وسیله تفریحی بوده و سبب ضیاع وقت شنوندگان و ۲ ساعت وقت نشراتی رادیو افغانستان نگردد."

در این نبشته ما گفته های بی قلم را سو تعبیر نکرده ایم. بر عکس خواستیم آنها را درست تر تعبیر و تفسیر کنیم تا خواننده گان و شنونده گان باریک اندیش در جریان کارهای ما قرار گیرند. اداره صبح بخیر افغانستان از قلم و قدم همه منتقدان، صاحبنظران و اهل فرهنگ و مطبوعات برای بهبود کارها و غنامندی برنامه هایش استقبال میکند.

In This issue

1- International Aid And Afghanistan
2- 800 Residential Houses Are Destroyed
3- American NGO Supports Disabled With US $100,000
4- 3000 Iraqi Soldiers Are Taken Prisoners
5- Leadership Or Improving The Society
6- Hope Shortens The Way Of Our Goals
7- 19 British Soldiers Are Killed
8- Sports Page
9- Just Keep Your Business
10- What Is Sadam Counting On?

اراده
د افغان نشراتی مرکز خپرونه
زیر نظر هیأت تحریر انتشار میابد
مدیر مسوول : ظهور افغان
سکرترمسوول: سید محمد "عادل"
معاون: اسماعیل "تیمور"
موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داؤد
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
۰۷۰۲۷۹۳۰۴
ERADA Daily
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز ودیزاین: انجینیر:محمدجمیل "امیری" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
قیمت یك شماره ۲ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Cente
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787 / 070279304

ACKU